# په افغانستان کې د بشري حقونو د وضعیت په اړه تازه راپور:

## جنوري – مارچ ۲۰۲۵

د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی

## د دغه تازه راپور په اړه

په افغانستان کې د بشري حقونو د وضعیت په اړه دغه تازه راپور چې د ۲۰۲۵ کال[1] له جنوري څخه تر مارچ پورې موده تر پوښښ لاندې نیسي، د یوناما د بشري حقونو د څانګې له خوا د ملګرو ملتونو د امنیت شورا[2] څخه د ورکړل شوي ماموریت سره په تطابق کې د ترسره شوي څارنې پر بنسټ ولاړ دی.

## د ښځو او نجونو حقونه

### *زده کړې*

د مارچ پر ۲۰ نېټه نوی تعلیمي کال پیل شو، دا څلورم کال دی له کوم وخت راهیسې چې د شپږم ټولګي څخه پورته د *برحاله* چارواکو له خوا د نجونو پر زده کړو بندیز لګول شوی.[3] تر اوسه پورې د نجونو او ښځو پرمخ د لېسو او پوهنتونونو د بیا پرانیستلو په اړه د *برحاله* چارواکو له خوا کوم اعلان نه دی شوی.

### *د تګ راتګ ازادي*

یوناما لا هم راپورونه تر لاسه کوي چې *برحاله* د امر بالمعروف او نهي عن المنکر مامورین روغتیايي کلینیکونو، هټیو، بازارونو، دولتي ادارو او موټر چلوونکو ته لارښوونه کوي چې هغو ښځو ته خدمات وړاندې نه کړي چې محرم ورسره نه وي، او همداراز ښځې له نورو عامه ځایونو ته له لاس رسي څخه منع کوي. د مثال په ډول:

- د جنورۍ له پای راهیسې، په غزني ولایت کې *برحاله* د امر بالمعروف او نهي عن المنکر محتسبینو *برحاله* اړوندو ادارو ته په شفاهي ډول لارښوونه کړې چې هغو ښځو ته په *برحاله* دولتي ادارو کې د ننوتلو یا عامه خدماتو ته دلاسرسي اجازه ورنه کړي چې محرم ورسره نه وي او یا یې هم مناسب حجاب نه وي اغوستی.
- د جنورۍ پر ۱۷، د هرات ولایت د کرخ ولسوالۍ په پاشدان بند کې، *برحاله* د امر بالمعروف او نهي عن المنکر محتسبینو ښځې د دې ساحې له لیدو څخه منع کړې، کورنیو ته یې ویلي چې یوازې نارینه غړي کولي شي دغه ځای ته لاړ شي.
- د جنورۍ په ۱۸مه، د بدخشان ولایت په خواهان ولسوالۍ کې، *برحاله* سرحدي پولیسو او *برحاله* د امر بالمعروف او نهي عن المنکر محتسبینو ښځو ته اجازه ورنه کړه چې د افغانستان او تاجکستان ترمنځ د پولې ګډ بازار ته داخل شي، ترڅو د ښځو او نارینوو د ګډ حضور مخنیوی وشي.[4]
- د فبرورۍ په میاشت کې[5]، په کندهار ولایت کې *برحاله* د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست چارواکو له یوه کلینیک څخه لیدنه وکړه او د کلینیک ساتونکو او مشرتابه ته یې امر وکړ چې ښځینه کارکوونکو او ناروغانو ته د محرم پرته د داخلېدو اجازه ورنه کړي.
- د فبرورۍ پر ۶، د فراه ولایت د فراه ښار د موټړونو په تمځای کې، څلور ښځو ته د موټړ چلوونکو له خوا د سفر اجازه ورنه کړل شوه ځکه چې له دوي سره محرم نه و.
- د فبرورۍ پر ۱۸ د ورځې پر مهال، په هرات ښار کې *برحاله* د امر بالمعروف او نهي عن المنکر محتسبینو څو رکشې ودرولې او رکشه چلوونکو ته یې خبرداری ورکړ چې له محرم پرته ښځې و نه لیږدوي.
- د فبرورۍ پر ۲۲، د کندهار ولایت په ډنډ ولسوالۍ کې، *برحاله* د امر بالمعروف او نهي عن المنکر محتسبینو د ولسوالۍ له بازار څخه لیدنه وکړه او دوکاندارانو ته یې لارښوونه وکړه چې د هغو ښځو خبر ورکړي چې محرم ورسره نه وي او هغوي ته دې اجازه نه ورکوي چې دوکانونو ته داخلې شي.

[1] ټولې نېټې ۲۰۲۵ ته راجع شوي، مګر دا چې په بل ډول مشخص شوي وي.
[2] د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ۲۶۲۶ (۲۰۲۲) شمېره پرېکړه لیک، د ۲۷۷۷ (۲۰۲۵) شمېره پرېکړه لیک له لارې تمدید شوی.
[3] نجونې له سپتمبر ۲۰۲۱ راهیسې له شپږم ټولګي پورته ښوونځیو ته له تګ څخه منع شوې دي، او ښځې او نجونې له دسمبر ۲۰۲۲ راهیسې له لوړو زده کړو څخه هم منع شوې دي.
[4] ویل کیږي چې هغه ښځې چې ناروغه وې او د درملو اخیستلو لپاره بازار ته د تګ اړتیا یې لرله، یوازې هغه مهال یې بازار ته د داخلېدو اجازه درلوده که له *برحاله* ولسوال څخه یې مکتوب درلود.
[5] ځای د امنیتي دلیلونو له امله پټ ساتل شوی دی.

- د مارچ پر ۳،[6] *برحاله* د امر بالمعروف او نهي عن المنکر محتسبینو له یوه روغتون څخه له مخکنۍ خبرتیا پرته لیدنه وکړه او د روغتون کارکوونکو ته یې یو شمېر لارښوونې وکړې، لکه باید ډاډ تر لاسه شي چې ښځینه کارکوونکو سره محرم شته. همدارنګه یې امر وکړ چې ښځینه ناروغانې چې محرم ونه لري، باید صحي خدمات تر لاسه نه کړي.

## کار

*برحاله* چارواکي اوس هم د پخواني اعلان شوي فرمان سره سم د سنګارتونونو د پرمخ وړلو، او په رسنیو کې د کارکولو د مخنیوي په ګډون د کار له حق څخه د ښځو د برخمن کېدو مخه نیسي.

- د فبرورۍ پر ۲۳ په سرپل ولایت کې، *برحاله* د امر بالمعروف او نهي عن المنکر محتسبینو کور په کور تلاشي پیل کړه تر څو د ښځو له خوا په کورونو کې جوړ شوي د ښکلا سالونونو ختم او د ښکلا محصولات یې ضبط او له منځه یوسي. د راپورونو له مخې دا پلټنې د *برحاله* امر بالمعروف او نهي عن المنکر نارینه محتسبینو له خوا پرته له اجازې یا مخکې له مخکې خبرتیا ترسره شوي وې ، حتی په هغو کورونو کې چې هلته هېڅ د کورنۍ نارینه غړو شتون نه درلود.
- یوناما له بیلا بیلو ولایتونو څخه راپورونه ترلاسه کړي چې د ښځو راډیو سټېشنونو ته ویل شوي چې تر څو پورې یې چې جواز د یوه نارینه په نوم ثبت شوی نه وي فعالیت نه شي کولی.

## د ښځو او نجونو په وړاندې د جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالی

د مارچ پر ۸ نېټې د ښځو په نړیوالې ورځ د *برحاله* چارواکو ویاند ذبیح‌الله مجاهد ادعا وکړه چې: "د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي او ناوړه چلند ټول ډولونه په مؤثر ډول مهار شوي دي" او هغه دا چې د افغان ښځو "بنسټیز حقونه... د اسلامي شریعت له قوانینو، او د افغاني ټولنې له فرهنګي او دودیزو چوکاټونو سره په مطابقت کې خوندي شوي دي"[7]. هغه دا هم وویل: "د اسلامي امارت عدلي ارګانونه مکلف دي چې د ښځو د حقونو د خوندیتوب لپاره خپلې ټولې هڅې وکړي، هغوی ته د واده په پرېکړه کې خپلواکي ورکړي، د مهر او میراث حقونه یې تامین کړي، او د هغوی د حقوقي خوندیتوب پراخ نظارت یقیني کړي".

د *برحاله* امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت لا هم د ښځو د حقونو د خوندیتوب په برخه کې د خپلو هڅو خبر ورکوي، چې په کې د ۲۰۲۱ کال د دسمبر پر ۳ نېټه د ښځو د حقونو د فرمان له مخې حقونه هم شامل دي[8]. د بېلګې په توګه[9]، د مارچ په ۲۲مه یې اعلان وکړ چې د تېرې یوې میاشتې په موده کې (له ۱۹ فبرورۍ تر ۱۹ مارچ پورې)، د دغه وزارت محتسبینو په کابل او نورو ولایتونو کې د ښځو اړوند ۸۴ قضیې څېړلې، چې په کې د میراث او جبري ودونو قضیې هم شاملې وې.

په دغې موده کې داسې پېښې هم ثبت شوي چې *برحاله* چارواکو د تاوتریخوالي او جبري ودونو د مخنیوي هڅه کړې. خو یوناما د جنسیت پر بنسټ د ښځو او نجونو پر وړاندې د تاوتریخوالي قضیې هم ثبت کړي، د یوې پېښې په شمول چې په کې *برحاله* چارواکو هڅه کړې وه چې یو جبري واده عملي کړي، او بله پېښه چې پکې یوې نجلۍ ته چې د خپل مېړه له لوري له فزیکي زورزیاتي سره مخ وه، مشوره ورکړې وه چې په همدې واده کې پاتې شي، ځکه عامل یې د هغې مېړه و.

## د جزا نړیواله محکمه

د جنورۍ پر ۲۳، د جزا نړیوالې محکمې اعلان وکړ چې د طالبانو د مشر هیبت‌الله اخندزاده او د سترې محکمې مشر قاضي عبدالحکیم حقاني پر ضد یې د نیولو لپاره

[6] ځای د امنیتي دلیلونو له امله پټ ساتل شوی دی.
[7] https://x.com/Zabehulah_M33/status/1898287707945603237 د برحاله چارواکو د ویاند رسمي ایکس پاڼه
[8] د ۲۰۲۱ کال د دسمبر په ۳مه، د طالبانو مشر د ښځو د حقونو په اړه یو لس مادییز فرمان صادر کړ. په دې فرمان کې، له نورو حقونو سره سره، "بالغې ښځې" ته د نکاح لپاره د انتخاب ورکولو حق هم ورکړل شوی دی. یاد فرمان د طالبانو د مشر ځانګړی فرمان بلل شوی، د ښځو د حقونو په اړه، د فرمان نمبر ۳۹۵ دی.د لاسرسي وړ: .https://twitter.com/Zabehulah_M33/status/1466662484375326720
[9]https://x.com/MOPVPE1/status/1903416186823385296 د برحاله امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت رسمي ایکس پاڼه

دوه غوښتنلیکونه ثبت کړي دي.[10] په دغه اعلان کې د جزا نړیوالې محکمې څارنوال ووېل چې راټول شوي شواهد څرګندوي چې د طالبانو مشر او *برحاله* د سترې محکمې مشر د "روم اساسنامې" له مخې، د جنسیت پر بنسټ د انسانیت پر ضد د تعقیب په جرم کې جزایي مسؤلیت لري.

د جنورۍ پر ۲۴ نېټه، *برحاله* د بهرنیو چارو وزارت یو بیان خپور کړ چې په کې یې د نړیوال جزایي محکمې د څارنوال له لوري پورې شوي تورونه "غندلي" وو، او ویې ویل چې دغه تورونه "...هېڅ قانوني بنسټ نه لري." په بیان کې دا هم ویل شوي و چې نړیواله جزایي محکمه "...باید هڅه ونه کړي چې د بشر حقونه واحد په ټولو تحمیل کړي، او باید د نړۍ د نورو ملتونو مذهبي او ملي ارزښتونه له پامه ونه غورځوي[11]".

د فبرورۍ پر ۱۹ نېټه، د افغانستان *برحاله* چاروا‌کو ویاند یو بیان خپور کړ او اعلان یې وکړ چې "د افغانستان اسلامي امارت... د روم اساسنامې له مخې هېڅ قانوني مکلفیت نه پېژني او د پخوانۍ اداري له خوا له دې اساسنامې سره الحاق قانوني اعتبار نه بولي". په بیان کې دا هم ویل شوي چې "[نړیواله جزایي محکمه] د عدالت او بې‌طرفۍ له اصولو د رعایتولو پر ځای، تل د سیاسي ملاحظاتو له مخې عمل کړی دی". همدارا‌ز، دا یادونه هم شوې چې "کله چې د نړۍ ډېر ځواکمن هېوادونه د دې 'محکمې' غړي نه دي، نو دا مناسبه نه ده چې داسې یوه ملت — لکه افغانستان، چې تل یې د بهرنۍ یرغل او استعماري تسلط په وړاندې زغم کړی — د دې محکمې د صلاحیت لاندې راشي[12]".

## ملکي زیان

د جنورۍ له لمړۍ نېټې څخه د مارچ تر ۳۱ پورې، ملکي وګړو ته د ځینو بریدونو له امله زیان اوښتی، چې د ځینو مسؤلیت یې د داعش خراسان څانګې، د افغانستان د آزادۍ جبهې او نورو وسله والو ډلو له خوا منل شوی.

- د جنورۍ د ۱۵نېټې په ماښام، د بلخ ولایت د مزار ښار دویمې امنیتي حوزې، د مرغ فروشي په څلور لارې کې، پر *برحاله* پولیسو ځای پر ځای شوي چاودېدونکي توکي وچاودېدل. په دې پېښه کې یو ماشوم مړ او ۱۹ تنه ټپیان شوي دي (یوه نجلۍ اته هلکان او لس نارینه). څلور *برحاله* امنیتي سرتېري هم ټپیان شوي دي. زیاتره وژل شوي او ټپیان شوي کسان د میوو او سبزیجاتو پلورونکي وو، چې د پېښې پر مهال یې په خپلو غرفو کې کار کاوه. د پېښې مسؤلیت هېڅ ډلې نه دی منلی.
- د جنورۍ د ۱۸ نېټې په ماښام د بغلان ولایت د پلخمري ښار په مرکزي څلور لارې کې د *برحاله* پولیسو پر چیک پواینټ لاسي بم وغورځول شو. یو نارینه مړ او ۱۸ وګړي (د یوه ماشوم او یوې ښځې په ګډون) ژوبل شول. د افغانستان ازادۍ جبهې د دغې پېښې مسؤولیت په غاړه واخیست.[13]
- د جنورۍ د ۲۱ نېټې په ماښام د تخار ولایت د خواجه بهاوالدین ولسوالۍ د کاتکجار په سیمه کې نامعلومو وسلوالو یو چینايي وګړی وویشت. ویل کېږي چې د پېښې په وخت کې هغه د تالقان ښار څخه چاه اب ولسوالۍ کې واقع د سروزرو کان ته پر لار وه. داعش خراسان ډلې د دغې پېښې مسؤولیت په غاړه واخیسته.
- د فبرورۍ د ۱۱ نېټې په سهار د کندز ولایت په کندز ښار کې ځانمرګي بریدګر هغه مهال خپل چاودېدونکي واسکټ ته چاودنه ورکړه کله چې *برحاله* نظامي منسوبین د معاشاتو د اخستیو لپاره د کابل بانک مخې ته کتار ولاړ وو. په پېښه کې ۴ ملکي وګړي او ۱۵ *برحاله* چارواکي وژل شوي. د ټپیانو کره شمېره معلومه نه دي. د پېښې مسؤلیت داعش خراسان ډلې په غاړه اخیستی.
- د فبرورۍ ۱۳ نېټې په سهار د ښار د جوړونې او اراضي وزارت دننه یوه ځانمرګي بریدګر خپل چاودیدونکی واسکټ وچاوه. په دې برید کې درې

[10] د جزا نړیواله محکمه '[Statement of ICC Prosecutor Karim A.A. Khan KC: Applications for arrest warrants in the situation in Afghanistan](https://www.icc-cpi.int)', (۲۳ جنوري ۲۰۲۵).
[11]https://x.com/MoFA_Afg/status/1882730914255708577?t=0gwBN-ejLpXui11hxqiyjQ&s=19
[12]https://x.com/FitratHamd/status/1892452095237804273
[13].https://x.com/AfgFreedomAFF/status/1880953193263206713

سرې ووژل شول او ۱۰ نور ټپیان شول، تول د *برحاله* وزارت کارمندان وو. داعش – خراسان (ISKP)ډلې د دغه برید مسؤولیت په غاړه واخیست.

له جګړې څخه د پاتې شونو چاودېدونکو توکو له امله لا هم ملکي وګړو ته زیان رسیږي، چې زیاتره قربانیان یې ماشومان دي. یوناما له جګړې څخه د پاتې شویو چاودېدونکو توکو د چاودنې له امله 42 تلفات (څلور نجونې، 30 هلکان، اته سړي) ثبت کړي.

## د پولې په اوږدو کې پیښې

د افغانستان په پکتیکا او ننګرهار ولایتونو کې د پولې په اوږدو کې د یو لړ پېښو په پایله کې ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوښتې:

- د فبروري د لومړۍ نېټې سهار وختې، په پکتیکا ولایت، د نعمت‌آباد ولسوالۍ په شېر علي کلي کې، د پاکستاني پوځي ځواکونو له لوري په هوايي برید کې یو جومات په نښه شو چې په کې درې نارینه — دوه د پولیو واکسیناتوران او یو ځایي اوسېدونکی ووژل شول. راپورونه وايي چې د پولیو واکسیناتوران د واکسینو کمپاین لپاره سیمې ته تللي وو او په جومات کې ویده وو. په ځواب کې، په افغانستان کې د پاکستان سفارت یوناما ته خبر ورکړ چې: په دغې سیمه کې "د پاکستان له خوا کوم برید نه دی ترسره شوی" او زیاته یې کړه چې "په دغې سیمه کې ولسي مرګ ژوبله د پاکستان له لوري له هیڅ ډول فعالیت سره تړاو نه لري"
- د مارچ د ۳ نېټې په ماښام او د ۴ نېټې په سهار په ننګرهار ولایت، مومند درې ولسوالۍ ، د طورخم په شینواري کلي کې د پاکستاني نظامي ځواکونو له لوري د پولې په اوږدو کې په ډزو یو نارینه او یو هلک ټپیان شول.
- د مارچ پر ۵ نېټه، په ننګرهار ولایت، مومندرې ولسوالۍ، په تورخم ښارګوټي کې، درې خبریالان چې د پولې د وسله‌والو نښتو راپورونه یې ورکول، د پاکستاني نظامي ځواکونو له خوا د توغول شوي هاوان مرمۍ د چاودېدو له امله ټپیان شول. د پورته یادو شویو پېښو ته چې د مارچ د ۳ او ۵ نېټو ترمنځ پېښې شوي په ځواب کې په افغانستان د پاکستان سفارت یوناما ته خبر ورکړ چې: "د ۲۰۲۵ کال د مارچ د ۳ نېټې په لومړیو ۳ ساعتونو کې، افغان ځواکونو د تورخم (خیبر ولسوالۍ) په پوله کې د درنو وسلو بې دلیله او بې توپیره ډزې وکړې. دغو ډزو د ۲۰۲۵ کال د مارچ تر ۵ نېټې پورې دوام درلود، چې له امله یې د پاکستان په خوا کې د ولسي مرګ ژوبلې په ګډون ملکي تلفات رامنځ ته شول، چې د دکار په پایله کې پاکستاني ځواکونه غبرګون ښودلو ته اړکړل شول."
- د مارچ پر ۲۸ نېټه، په پکتیکا ولایت، نعمت ولسوالۍ، د سګاپي هوټل په سیمه کې، د پاکستاني نظامي ځواکونو له خوا ترسره شوي یوه هوايي برید یو کور په نښه کړ، چې له امله یې اووه ولسي وګړي ووژل شول (یو نارینه ، یوه ښځه، دوه هلکان او درې نجونې).

## بدني سزا

*برحاله* چارواکو په عام محضر کې د قضایي بدني سزاګانو پلي کول په اونیز ډول جاري ساتلي او ځینې وختونه دغه سزاګانې پر زیات شمیر وګړو په ګروپي ډول تطبیق شوې. د مثال په ډول:

- د فبرورۍ پر ۲۳ نېټه، په خوست ښار کې، ۱۸ تنه (۱۴ نارینه او څلور ښځې) د *برحاله* ولایتي محکمې دننه په دورو ووهل شول. له دغو کسانو څخه څلور نارینه د همجنس بازۍ په تور، او ۱۴ نور (چې څلور ښځې هم په کې شاملې وې) د نامشروع اړیکو په تور محکوم شوي وو. قربانیانو د ۳۰ څخه تر ۳۹ درو تر څنګ، له یو څخه تر پنځو کلونو پورې د بند په سزا محکوم شول. په یاده سزا کې *برحاله* ولایتي چارواکو، د لومړۍ محکمې قاضیانو، او ځایي خلکو حضور درلود.
- د فبرورۍ پر ۲۵ نېټه، په جوزجان ولایت، شبرغان ښار په ورزشي لوبغالي کې، ۱۳ تنه (نهه نارینه او څلور ښځې) په علني توګه په دورو ووهل شول. هغوی د بېلابېلو جرمونو په تور محکوم شوي وو، چې په کې زنا، لواطت او له کوره تښتېدل شامل وو. هر کس ته له ۲۹ تر ۳۹ دورو

سزا ورکړل شوه. په یاده سزا کې ګڼ شمېر *برحاله* چارواکو او زیات شمېر سیمه ییزو خلکو ګډون کړی وه.

د جنورۍ د لمړۍ او د مارچ د ۳۱ نېټو تر منځ، د یوناما بشري حقونو څانګې، لږ تر لږه د 180 وګړو قضايي بدني سزاګانې ثبت کړي دي (142 سړي، 35 ښځې، او درې نجونې).

## پخواني حکومتي چارواکي او د افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو غړي

د جنوري د لومړۍ او مارچ د ۳۱ نېټې تر منځ، د یوناما د بشري حقونو څانګې د خپلسرو نیونو او توقیف لږ تر لږه 23 مورده، او د پخوانیو افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو د غړو د شکنجې او ناوړه چلند لږ تر لږه پنځه او د هغوی د وژنې شپږ مورده مستند کړي دي.

له دې نیونو څخه یو شمېر یې په پنجشیر او کابل کې ترسره شوي او هغه اشخاص چې د پخواني افغان حکومت سره یې تړاو درلود د مقاومت ملي له جبهې سره د تړاو په تور نیول شوي دي.

## بنسټيزې آزادۍ ګانې

### *د رسنيو آزادي*

*برحاله* چارواکو د رسنیو په چارو کې لاسوهنې ته دوام ورکړی. د فبرورۍ په ۱۳ نېټه، *برحاله* د اطلاعاتو او کلتور وزارت په شفاهي ډول رسنیو ته لارښوونه وکړه چې تر بیا خبرتیا پورې د سیاسي برنامو خپرول ځنډول شوي دي. د مارچ په لومړۍ نېټه، د رسنیزې مرکې پر مهال،[14] د *برحاله* اطلاعاتو او کلتور وزارت د نشراتو معین، مهاجر فراهي تائيد کړه چې د ځینو *برحالو* وزارتونو د شکایت له امله سیاسي برنامې ځنډول شوي دي. هغه همدارنګه وویل چې سیاسي برنامې به په راتلونکي کې په نوې بڼه بیا پیل شي.[15]

د بهر میشتو رسنیو سره چې د افغانستان څخه بهر فعالیت کوي د خبریالانو پر همکارۍ بندیز، د *برحاله* چارواکو له خوا په جدي ډول پلې کېږي.[16] د بېلګې په ډول د فبروري په ۴ نېټه، د *برحاله* استخباراتو عمومي ریاست او *برحاله* د اطلاعاتو او کلتور وزارت کارمندانو د بیګم راډیو محوطې ته په ناڅاپي ډول ورننوتل. د راډیو دوه نارینه کارکوونکي یې ونیول، نیول شوي کارکوونکي د دې راپور تر خپرېدو پورې په توقیف کې دي. د *برحاله* اطلاعاتو او کلتور وزارت په وینا د بیګم راډیو فعالیت، "بهر میشتي تلویزیوني چینل ته په غیرمجاز ډول د مطالبو او برنامو د جوړولو" په ګډون، د "یو شمېر سرغړونو" له امله ځنډول شوی دی.[17] له ۲۰۲۴ کال راهیسې، یو شمېر خبریالان بهر میشتو رسنیو سره د کار کولو په تور په خپلسرې ډول نیول شوي او په ځینو مواردو کې په حبس باندې محکوم شوي دي.

### *د دين آزادي*

د جنورۍ ۱۷ او د فبرورۍ د ۳ نېټو ترمنځ، په بدخشان ولایت کې د *برحاله* امربالمعروف او نهي عن المنکر ریاست د محتسبینو په ګډون، *برحاله* ولایتي چارواکو د اسماعیلیه ټولنې لږ تر لږه ۵۰ نارینه غړي اړ کړل چې سني عقیدې ته واوړي. دغه سړیان د دیني پوښتنو لپاره شپې د کورونو څخه ویستل شوي. کومو هغو چې د دين [مذهب] بدلولو څخه ډډه کړې د فزیکي زور زیاتي، جبر او د مرګ ګواښونو سره مخ شوي. د دې تر څنګ، *برحاله* چارواکو د ولایت په اسماعیلیه میشتو سیمو کې یو شمېر دیني مدرسې جوړې کړي او د اسماعیلیه ماشومانو څخه غواړي چې په دغو مدرسو کې نوم لیکنه وکړي او د سني عقیدې پر بنسټ زده کړې وکړي.

[14]https://shamshadnews.com/2025/03/01/%D9%81%D8%B1%D8%A7%D9%87%D9%8A-%D8%AF-%D8%B1%D8%B3%D9%86%DB%8C%D9%88-%D8%B3%DB%8C%D8%A7%D8%B3%D9%8A-%D8%A8%D8%AD%D8%AB%D9%88%D9%86%D9%87-%D8%AF-%D9%84%D9%86%DA%89%DB%90-%D9%85%D9%88%D8%AF%DB%90/

[15] په ژوندۍ بڼه د سیاسي برنامو په خپرولو لا وار دمخه ممانعت شتون درلود. د ۲۰۲۴ کال د سپتمبر په ۲۱ نېټه، رسنیو ته لارښوونه وشوه چې یواځې د مخکې ثبت شوي سیاسي برنامې چې *برحاله* د اطلاعات او کلتور وزارت له خوا تائید شوي وي د خپرولو اجازه ترلاسه کړي او هغه مطالب به د خپرېدو څخه وړاندې حذف کیږي کوم چې حساس یا د *برحاله* چارواکو سره په ټکر کې ګڼل کیږي.

[16] د برحاله اطلاعات او کلتور وزارت د رسنیزو سرغړونو د ارزونې کمیسیون د اعلان/پریکړې له مخې ټول خبریالان، کارپوهان او شنونکي د افغانستان انترنشنل (یوه بهر میشتی رسنۍ) سره د هر ډول همکارۍ څخه منع شوي دي. منبع: https://x.com/moicafghanstan/status/1788226085768884290?s=46.

[17] https://www.moic.gov.af/index.php/en/begum-radio-transmissions-have-been-suspended.

*برحاله* د امربالمعروف او نهي عن المنکر رياست محتسبينو د امربالمعروف او نهي عن المنکر قانون پلې کولو ته دوام ورکړی. د مارچ د لومړۍ او ۲۹ نیټې تر منځ، ځايي اقدامات ترسره شوي تر څو په جومات کې جماعت سره د لمونځ کول او د روژې اړوند د نورو احکامو ترسره کيدل ډاډمن کړي. لکه *برحاله* د امربالمعروف او نهي عن المنکر رياست محتسبينو خلکو ته ويلي چې په جومات کې د تراويح لمونځ وکړي او د لمانځه پر مهال سوداګري او کاروبار بند کړي. په ځينو مواردو کې هغو کاروبارونو ته چې د لمانځه پر مهال يې جريان درلود لارښوونه شوې چې کاروبار بند کړي. *برحاله* د امربالمعروف او نهي عن المنکر رياست محتسبينو ځايي ديني مشرانو ته لارښوونه کړې چې هغه کسان چې لمونځونه يې [په جومات کې] نه دي ترسره کړي په ګوته کړي. *برحاله* د امربالمعروف او نهي عن المنکر رياست محتسبينو ځيني کسان چې لمونځونه يې په جومات کې نه وو ترسره کړي، توقيف کړي يا يې ناوړه چلند ورسره کړی (لږ تر لږه په فراه، هلمند، زابل، او سمنګان ولايتونو کې). له بلې خوا، په بادغيس او هرات ولايتونو کې ښځې په مشخصو جوماتونو کې د تراويح لمونځ کې له ګډون څخه منع شوي او لارښوونه ورته شوې چې په کور کې يې ترسره کړي.

## عدلي اجراآت

د جنوري په ۱۱ نيټه، *برحاله* سترې محکمې، د ميزان مجلې ۸۷ شميره ګڼه کې ټولو محکمو ته يو لړ متحدالمالونه صادر کړل.[18] چې لاندې هغه په کې شامل دي:

- يو متحدالمال[19] د يو لړ کميټو د رامنځته کولو لارښوونه کوي تر څو د ټولو توقيف ځايونو څخه ليدنې وکړي او هغه بنديان او توقيفيان معلوم کړي کړي چې "برخليک يې نا معلوم دی" او د عفوې يا د مجازاتو د کميدو لپاره د شرايطو وړ دي؛
- دغه متحدالمال[20] له محکمې څخه د مدعي د هغو غوښتنو ته د رسيدګۍ په اړه دی چې مدعي عليه دې د افغانستان څخه د باندې تګ نه منع شي، په هغه صورت کې چې مدعي د مدعي عليه په وړاندې ناحل شوې ادعا ولري؛
- دغه متحدالمال[21] بيلابيلو موضوعاتو اړوند لارښوونې لري، ځينې يې دا دي:
    - د علماؤو له ولايتي شورا څخه غوښتنه کوي، ټول شکايتونه چې دوي د محکمو په خلاف ترلاسه کړي د *برحاله* استيناف محکمې رئيس سره دې د هغوي د ځواب لپاره شريک کړي؛
    - لارښوونه کوي چې د هغو توقيفيانو د قضيو طې مراحلو ته دې لومړيتوب ورکړل شي چې د *برحاله* امنيتي او نورو ادارو له خوا بې ګناه ګڼل شوي. که چيرې يو توقيفي د محکمې له خوا هم بې ګناه وپيژندل شو نو محکمې دې هغه ته برائت ليک ورکړي او دوسيه دې ورته نه جوړوي؛
    - لارښوونه کوي چې د حدودو او قصاص په قضيو کې، په اقرار باندې هر ډول اتکا دې له نږدې تر بياکتنې لاندې راشي؛ او
    - هغو محکمو ته چې د قتل قضيې حل کوي، لارښوونه کوي تر څو داډ ترلاسه کړي چې هر اقرار په مشخص ډول د عمد قتل ښکارندوی دی.
- يو متحدالمال[22] د انساني قاچاق اړوند جرايمو ته درسيدګۍ صلاحيت د عامه امنيت ديوان څخه *برحاله* نظامي محکمو ته ورکوي.

د جنوري په ۱۲ نيټه، *برحاله* د عدليې وزارت پر خپله ايکس پاڼه اعلان وکړ چې د مدافع وکيلانو د عالي کميسيون دريمه غونډه د جنوري پر ۱۱ نيټه ترسره شوه. *برحاله* د عدليې وزير وويل چې مدافع وکيلان د شفافې پروسې له لارې خپل جوازونه ترلاسه کوي او مدافع وکيلانو سره د عدلي او امنيتي ارګانونو د همکارۍ

[18] https://x.com/SupremeCourt_af/status/1878078706159091865.
[19] ۱۱مه شميره متحدالمال، د ۲۰۲۴ کال د دسمبر ۱۳ مه نيټه.
[20] ۱۲مه شميره متحدالمال، د ۲۰۲۴ کال د دسمبر ۱۶ مه نيټه.
[21] ۱۳مه شميره متحدالمال، د ۲۰۲۴ کال د دسمبر ۲۰ مه نيټه.
[22] ۱۴مه شميره متحدالمال، د ۲۰۲۴ کال د دسمبر ۳۰ مه نيټه.

پر ارتیا یې تاکید وکړ. غونډه په دې سره پای ته ورسیده چې اړونده اداري دې د مدافع وکیلانو د انسجام طرزالعمل په پوره ډول پلي کړي.[23]
د جنوري پر ۲۲ نیټه، *برحاله* سترې محکمې د میزان مجلې ۸۸ شمیره ګڼه خپره کړه، یو متحدالمال[24] یې محکمو ته لارښوونه کوي چې د هغو مجاهدینو د قضیو هر اړخیز څیړل ډاډمن کړي چې په هلمند او نیمروز ولایتونو کې په وسله واله نښته کې د خپل ځان څخه دفاع لپاره په قاچاق وړونکو باندې د ډزو کولو له امله نیول شوي او له شریعت سره سم دې د هغوی موضوعات حل کړي.[25]

د جنوري په ۲۲ مه نیټه، *برحاله* د دفاع وزارت د امنیتي او تصفیوي چارو کمیسیون، د امنیتي او دفاعي ارګانونو د لاسته راوړنو په کلنۍ راپور کې وویل چې: د فرامینو، حکمونو د تعقیب او نظارت او د امنیتي او دفاعي ارګانونو ځانګړي تشکیلات په دې توانېدلي چې د غیرقانوني نیونو، په غیرقانوني توګه په توقیف کې د متهمینو د ساتلو، د جسماني او روحي هر ډول شکنجې مخه د طالبانو د مشر له فرمانونو سره سم "په بشپړه توګه ونیسي". په کم شمېر مواردو کې چې سرغړونې ترسره شوي، سرغړونکي ځانګړو نظامي محکمو ته وربېژندل شوي او د سرغړونو سره سم مجازات شوي دي؛ او ادعا یې کړې چې د خپلو لیکو څخه د کسانو په لرې کولو کې مهمې لاسته راوړنې لري، د دې یادونه کوي چې "یو زیات شمیر" کسان چې خلکو ته په ضرر رسولو کې یا په بیلابیلو جرمونو کې دخیل وو په ګوته او له بستونو څخه منفک کړي.[26] د جنوري پر ۲۲ نیټه، د افغانستان ملي رادیو تلویزیون د *برحاله* امربالمعروف او *نهي* عن المنکر وزارت له ویاند سره یوه مرکه خپره کړه، هغه وویل چې *برحاله* وزارت د *برحاله* ادارو په وړاندې د "ملکیانو" د شکایتونو د ترلاسه کولو او رسیدګۍ مسؤلیت لري. شکایتونه کیدای شي په محکمو کې د قضیو ځنډیدل، د امنیتي پرسونل له خوا ناوړه چلند او د *برحاله* امربالمعروف او نهي عن المنکر د محتسبیو اړوند مسائلو ته شامل وي. اشخاص کولای شي خپل شکایتونه په حضوري ډول *برحاله* وزارت کې یا هم د *برحاله* وزارت په ولایتي ریاستونو کې، ۱۹۱ شمیرې ته په زنګ وهلو یا د ویب سایت یا ایمیل له لارې ثبت کړي.[27]

د مارچ پر ۱۹ نیټه، *برحاله* چارواکو د طالبانو د مشر یو نوی فرمان "د خیښۍ، ودونو، مصیبتونو او همدا راز له حج او عمرې څخه د راستنیدو پر مهال د ناسمو رواجونو د مخنیوي" خپور کړ.[28] دغه فرمان وا‌ده کې د ښځو د آزادانه رضایت پر اړتیا بیاځلې تاکید کوي او دا روښانه کوي چې واده ته د ښځې اړ کول غیرقانوني عمل دی. فرمان په ډاګه کوي چې د ښځو په وړاندې د ناقانونه کړنو لکه "ډزې کول، په زور واده کول، یا د ښځو د حقونو نقض کول" [د میراث، مهر، آزادي]، مرتکبین باید د اسلامي امارت په محکمو کې تر عدلي تعقیب لاندې ونیول شي او دا چې محکمې مکلفیت لري چې شکایتونو ته د ۲۰۲۱ کال د دسمبر ۲ نیټې د ښځو د حقونو له فرمان سره سمه رسیدګي وکړي. د مهر په اړه د نورو احکامو د مشخص کولو تر څنګ، دا فرمان تاکید کوي چې په واده کې د زوم له خوا ورکړل شوی مهر یوازې په ښځې پورې اړه لري.

د جنوري له پیل راهیسی، *برحاله* د زندانونو د چارو د سمون اداري د ایکس پاڼې د لارې له ۱۷۰۰ څخه د زیاتو زندانیانو د عفوې او خوشې کیدو او د هیواد له زندانونو څخه شاوخوا د 2452 زندانیانو د حبس په موده کې د کموالي اعلان وکړ. له بلې خوا، د مارچ په ۲۹ مې نیټې، *برحاله* سترې محکمې اعلان وکړ چې د کوچني اختر په مناسبت د طالبانو مشر د ۲۴۶۳ زندانیانو خوشې کول او د ۳۱۵۲ نورو د بند مودې کمول تصویب کړی.[29]

[23] *برحاله* د عدلیې وزارت، https://t.co/VGYmiN6rTj; https://x.com/MojAfghanistan/status/1878382608150560961
[24] ۱۵مه شمیره متحدالمال، د ۲۰۲۵ کال د جنوري ۶ مه نیټه.
[25]https://x.com/SupremeCourt_af/status/1882053693811630235https://t.co/qm1wiE7rTT
[26]https://rta.af/en/the-annual-report-of-the-central-commission-for-security-and-clearance-affairs/
[27]https://x.com/rtapashto/status/1881970783599382817
[28]https://www.alemarahenglish.af/decree-of-the-esteemed-amir-ul-momineen-may-allah-protect-him-regarding-prevention-of-improper-customs-during-weddings-calamities-and-upon-return-from-hajj-and-umrah/
[29]https://x.com/SupremeCourt_af/status/1905856902120017969?t=_CJ9077IqahBb1ISZTXKtg&s=08